د افغانستان اسلامي امارت

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو

ټولو خطیبانو ته په دواړو ملی ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږی

---

۱۳/ جمادي الثانیة /۱۴۴۴ هـ، ق مطابق ۱۶/ جدي/۱۴۰۱هـ، ش

# د جُمعِې د لمانځه فضائل او احکام

إن الحمد لله ، نحمده ونستعينه ونستغفره ، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ، ومن سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ، ومن يضلل فلا هادي له ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، اما بعد؛ فقد قال الله سبحانه وتعالی في محکم کتابه بعد أعوذبالله من الشيطان الرجيم: {يَا يُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ . فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} الجمعة: (۱۰)

گرانو هیوادوالو او اوریدونکو!

د درنو هیوادوالو د علمي، دیني ، فرهنگي او ملي تندې د ماتولو لپاره د ارشاد، حج او اوقافو وزارت زیار باسي او هره جمعه د خپلو هیوادوالو لپاره جامع او مدلل بیان او تقریر په پښتو او دري ژبو چمتو کوي او په ټول هیواد کې یې علماء خپل ولس ته بیانوي، بناءً ستاسو څخه په ډیر درنښت هیله کیږي چې د جمعې په ورځ جُمات ته وختي راشئ ترڅو له یوې خوا خپل نفلي لمونځ په ښه توگه اداء کړی او له بل پلوه به د جمعې بیان او تقریر واورئ او د معلوماتو څخه به یې استفاده وکړی؛ ځکه مسجدونه د مدرسو حیثیت لري چې مونږ غواړو تاسو ته ددې ادرس څخه دیني او شرعي گټور معلومات او احکام بیان کړو .

اسلامی شریعت د خلکو د را جمع کیدو لپاره بهترین ترتیب مقرر کړی دی ، لومړی یې په یوه محله کې خلکو ته حکم کړی دی چې د ورځې پنځه وخت لمونځ په جماعت سره اداء کړي، ددې لپاره چې مسلمانان د اهم عبادت د لمانځه د اداء کولو ترڅنگ د یو بل دحال احوال څخه هم خبرشي . بیایې دښاریې خلکو لپاره په جمعه کې یوه ورځ د جمعې لمانځه لپاره د راجمع کیدو حکم کړی دی.بیا یې په یو کال کې د اخترونو دلونځونو پر وخت د راجمع کیدو حکم کړی دی دا چې د

اختر په لمانځه کې د خلکو تعداد زیات وي نو ځکه یې حکم کړی دی چې د اختر لمونځ دی په یو غټ میدان کې اداء شي ترڅو د لری لری ځایونو څخه په کې خلک راټول شي او یو دبل له احوال څخه ځانونه خبر کړي.

نو ضرور ده چې د جمعې د لمانځه د فضائلو او احکامو په اړه نن ورځ بحث وکړو.

د جُمعِې د لمانځه حکم:

د جمعې لمونځ په عاقل، بالغ، آزاد، مقیم ، سالم نارینه باندې فرض دی. د جمعې لمونځ د مسلمانانو په شعائرو کې شامل ده او منکر یې کافر دی او پرته له عذره پریښودونکی یې فاسق او ګناهګار دی.

د جمعې د لمانځه فرضیت په قرآن کریم ، نبوي سنتو او دامت په اجماع سره ثابت دی. الله جل جلاله فرمايلي دي:{يَا يُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ}الجمعة: (٩)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ! کله چې د جمعې د ورځې دلمانځه لپاره اذان وویلی شي، نو تاسې د الله تعالی ذکر ته په تیزۍ سره لاړ شئ او اخیستل ( او خرڅول) پریږدئ دا د تاسو لپاره ډیر غوره دي که تاسې پوهیږئ.

په پورتني آیت کې الله تعالی مؤمنانو ته حکم کوي چې کله د جمعې آذان وشي، نو تاسو اخیستل او خرڅول پریږدئ او ټول هغه کارونه پریږدئ چې دجمعې د لمانځه څخه مو منع کوي او دجمعې لمانځه ته په اهتمام سره روان شئ. دلته د ( فاسعوا) څخه مراد کوښښ کول مراددي نه منډې وهل؛ ځکه لمانځه ته منډې وهل په حدیث شریف سره ممنوع ګرځول شوي دي.

ددې مبارک آیت څخه د جمعې د لمانځه فرضیت ثابتیږي؛ ځکه د(فاسعوا الی ذکرالله) نه مراد د جمعې لمونځ او دجمعې خطبه ده.

امام سرخسي رحمه الله وایې: یو شی ته په تیزۍ سره د ورتللو امر کول د هغه شی د وجوب له امله کیږي او د جمعې په خاطر د مباح خرڅلاو د پریښودلو حکم د جمعې د وجوب دلیل دی.[المبسوط]

په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ، قَالَ : خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ فَقَالَ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ , تُوبُوا إِلَى اللهِ قَبْلَ أَنْ تمُوتُوا ، وَبَادِرُوا بِالأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ قَبْلَ أَنْ تُشْغَلُوا ، وَصِلُوا الَّذِي بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ رَبِّكُمْ بِكَثْرَةِ ذِكْرِكُمْ لَهُ ، وَكَثْرَةِ الصَّدَقَةِ فِي السِّرِّ وَالْعَلاَنِيَةِ ، تُرْزَقُوا وَتُنْصَرُوا وَتُجْبَرُوا ، وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْكُمُ الْجُمُعَةَ فِي مَقَامِي هَذَا ، فِي يَوْمِي هَذَا ، فِي شَهْرِي هَذَا ، مِنْ عَامِي هَذَا , إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ، فَمَنْ تَرَكَهَا فِي حَيَاتِي أَوْ بَعْدِي ، وَلَهُ إِمَامٌ عَادِلٌ أَوْ جَائِرٌ ، اسْتِخْفَافًا بِهَا ، أَوْ جُحُودًا لَهَا ، فَلاَ جَمَعَ اللَّهُ لَهُ شَمْلَهُ ، وَلاَ بَارَكَ لَهُ فِي أَمْرِهِ ، أَلاَ وَلاَ صَلاَةَ لَهُ ، وَلاَ زَكَاةَ لَهُ ، وَلاَ حَجَّ لَهُ ، وَلاَ صَوْمَ لَهُ ، وَلاَ بِرَّ لَهُ حَتَّى يَتُوبَ ، فَمَنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ). سنن ابن ماجة

ترجمه:- دجابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايې چې مونږ ته خطبه وویله رسول الله صلی الله علیه وسلم او وه يې فرمایل: ای خلکو! توبه وباسئ الله تعالی ته مخکې له دې چې مړه شئ او عجله وکړئ نیکو عملونوته مخکې له دې چې مصروف شئ او وصل کړئ هغه رابطه چې ستاسې او ستاسې د رب په منځ کې ده په زیاتو یادولو سره هغه لره او په زیاتو خیراتونو سره په پټه او په ښکاره تاسو ته به رزق درکړل شي او له تاسو سره به مرسته وشي او تاسو به جبیره کړای شئ( حالت به مو ښه شي) او پوهه شئ چې بیشکه الله تعالی در باندې فرض کړی ده د جمعې ورځ په دې ځای د دریدو زما کې، په دې ورځ زما کې، په دې میاشت زما کې ، په دې کال زما کې ترقیامت ورځ پورې، پس چا چې پریښوده د جمعې ورځ په ژوند زما کې او یا پس د مرګ زما څخه او هغه لره عادل پاچا ؤ او که ظالم پاچا په داسې حال کې چې د جمعې ورځ يې سپکه ګڼله او یا ورڅخه منکر ؤ الله تعالی د هغه کارونه جوړ نه کړي او برکت دې نه اچوي ورلره په کار د هغه کې، خبردار! او نه شته د هغه لمونځ، او نشته د هغه زکات او نشته د هغه حج او نشته د هغه روژه او نشته د هغه نیکي ترڅو چې توبه وباسي، څوک چې توبه وباسي الله تعالی به يې توبه قبوله کړي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلاَّ أَرْبَعَةً عَبْدٌ مَمْلُوكٌ أَوِ امْرَأَةٌ أَوْ صَبِيٌّ أَوْ مَرِيضٌ ). سنن أبی داود

ترجمه:- جمعه حق واجب دی په هر مسلمان باندې په جماعت سره پرته له څلورو کسانو څخه غلام چې د چا ملکیت کې وي، ښځه او ماشوم او مریض.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:( رَوَاحُ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ). سنن النسائي

ترجمه:- د جمعې لمانځه ته تلل واجب دي په هر بالغ باندې.

همدا راز د جمعې لمانځه په فرضیت د امت اجماع ده. امام ابن المنذر وایې:(وأجمعوا على أن الجمعة واجبة على الأحرار البالغين المقيمين الذي لا عذر لهم. [الإجماع لابن المنذر]

ترجمه:- د امت علماوو اجماع کړی ده په دې چې د جمعې لمونځ واجب دی په آزادو، بالغو او مقیموکسانو باندې هغه چې کوم عذر ونه لري.

په لومړي آذان سره اخیستل او خرڅول منع کیږي:

کله چې لومړی اذان وشي نو په هر مسلمان باندې لازم دي چې ټول دنیوي کارونه پریږدي او د لمانځه لپاره امادګي ونیسي، مسجد ته لاړشي او دجمعې تقریر او بیان ته ځان ورسوي ترڅو د هغه قیمتي لارښوونو ، هدایاتو او معلوماتو څخه برخمن شي چې د مسجد امام يې خلکو ته وړاندې کوي او له بل پلوه د جمعې خطبې ته هم په وخت رسیدګي وکړي او وه کولای شي چې خطبه په غور سره واوري او په پوره خشوع او خضوع سره دجمعې لمونځ وکړي.

د همدي وجې نه د صحابه كرامو رضوان الله تعالى عليهم اجمعين دا عادت ؤ چې هغوی به د جمعې په ورځ د لمانځه څخه وروسته ډوډۍ خورله؛ ترڅو د جمعې له لمانځه څخه په خوراک او څښاک مصروف نشي.

امام ابن العربي په احكام القرآن كې وايي: (د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كې دجمعې د ورځې آذان د نورو لمونځونو په شان ؤ، مؤذن به هغه وخت آذان كولو كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په منبر كيناست او دا چاره د ابوبكر صديق رضي الله عنه، د حضرت عمر رضي الله عنه او په كوفه كې د علي رضي الله په زمانو كې همداسې وه. كله چې حضرت عثمان رضي الله خليفه شو د زوراء په مقام كې دريم آذان ورزيات شو).

علماء كرام وايې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كې صحابه كرام د مسجد نبوي سره نږدې اوسيدل او د لمانځه آذان به يې اوريدلو او له چا څخه د جمعې خطبه او لمونځ نه فوت كيدلو ؛ كله چې د حضرت عثمان رضي الله عنه زمانه شوه صحابه كرام زيات شول او د صحابه كرامو كورونه د مسجد نبوي څخه لرې آباد شول او د كاروبار په ځايونو كې يې هم پراخې راغله او دا ددې سبب شو چې خلكو به د جمعې د ورځې اذان نه او ريده او د جمعې خطبې او لمانځه ته به په سختۍ سره رارسيدل ، نو حضرت عثمان رضي الله عنه يو بل آذان اضافه كړو چې په زوراء مقام كې به كيدلو چې د ځينو علماوو د وينا په اساس زوراء د بازار په منځ كې ځای ؤ ، نو ټولو خلكو به اوريدلو چې دا د وخت دداخليدو آذان ؤ يعنې لومړی اذان د وخت دداخليدو آذان به په زوراء مقام كې كيدلو او دوهم اذان به هغه وخت كيدلو چې امام به خطبه شروع كوله او د دريم آذان څخه مراد اقامت دی.

په يو حديث شريف كې راځي:(كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوَّلُهُ إِذَا جَلَسَ الإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ-صلى الله عليه وسلم- وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ - رضي الله عنه - وَكَثُرَ النَّاسُ زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ). صحيح البخاري ، ترجمه: ؤ اذان په ورځ د جمعې په اولو ورځو كې كله به چې كيناست امام په ممبر په زمانه د رسول الله صلى الله عليه وسلم كې او په زمانه د ابوبكر صديق او د عمررضي الله عنهم په زمانه كې، كله چې زمانه دعثمان رضي الله عنه شوه او خلک زيات شول هغه زيات كړ آذان دريم په زوراء مقام باندې.

نو كله چې لومړی آذان وشي په ټولو خلكو فرض دي چې دنيوي معاملات او راكړه وركړه او نور مشغولتيا پريږدي او لمانځه ته مخه كړي.

لهذا د جمعې د اول آذان نه پس د احنافو په نزد باندې دنيوي معاملات لكه بيع، شراء او وغيره مكروه تحريمي دي او دجمعې د لمانځه لپاره تياری كول او لمانځه ته تلل لازمي دي.

بدرالدين عيني دامام اعظم رح قول رانقل كړی دی: (وروى الحسن، عن أبي حنيفة، أن المعتبرَ في وجوب السعي وحرمة البيع الأذانُ على المنارة؛ لأنه لو انتظر الأذان عند المنبر يفوته أداء السنة، وسماع الخطبة، وربما تفوته الجمعة إذا كان بيته بعيداً من الجامع). شرح أبي داود للعيني

ترجمه:- حسن د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه څخه روايت نقل کړی دی هغه وايي معتبر د سعي د وجوب لپاره او د بيع د حرمت لپاره هغه لومړني د زوراء په مناره اذان دی ؛ځکه چې که چيرې مونځ کوونکی انتظار وباسي د ممبر په خوا کې آذان ته، نو فوت به شي ورڅخه سنت لمونځ کول، د خطبې اوريدل او کيدای شي چې د جمعې لمونځ ورڅخه فوت شي که چيرې کور يې د مسجد څخه لری وي.

دجمعي د لمانځه فضائل:

په مبارکو آحاديثو کې د جمعې د لمانځه فضائل زيات ذکر شوي دي چې ځينې يې په لاندې توګه دي:

۱- د جمعې په لمانځه سره ګناهونه معاف کيږي.

کوم کس چې د آدابو لحاظ ساتلو سره د جمعې لمونځ اوکړي نو په دې سره دده ګناهونه معاف کيږي ، دا مضمون په مختلفو احاديثو کې ذکر شوی دی.

په يو حديث شريف کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :( مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الوُضُوءَ ، ثُمَّ أَتَى الجُمعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الجُمُعَةِ وَزِيادَةُ ثَلاثَةِ أيَّامٍ ، وَمَنْ مَسَّ الحَصَا فَقَدْ لَغَا).رواه مسلم .

ترجمه:- څوک چې په ښه طريقې سره اودس اوکړي ( يعنی د آودس د آدابو لحاظ هم أوساتي ) بيا د جمعې لمانځه ته راشي او خطبه واوري او ورته غوږ ونيسي، ورته و به ښښل شي ددې جمعې او د تيرې جمعې په منځ کې شوي ګناهونه او چاچې مس کړل واړه کاڼي ( يعنې ځان يې د کاڼو په اړولو مصروف کړ) نو ده لغوه کار وکړ ( او د جمعې د لمانځه ثواب يې ضائع کړ).

په يو بل حديث شريف کې راځي:(لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ ثُمَّ يُصَلِّي مَا كُتِبَ لَهُ ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى). صحيح البخاري

ترجمه:- کوم کس چې د جمعې په ورځ غسل اوکړي او ځان پاک کړي هرڅومره چې يې په توان کې وه او په ځان خپل تيل ولګوي او يا د کور خوشبوئي په ځان ولګوي، بيا جمات ته اووځي او په جمات کې ددوه کسانو ترمنځ جدايي را نه ولي ( يعنې د هغوی په منځ ناسته ونه کړي)، بيا چې دده په تقدير کې څومره لمونځ ليکل شوی وي هغه اداء کړي ، بيا چې امام خطبه وايي دا ورته خاموش او چپ ناست وي، نو الله تعالی به ده ته ددې جمعې نه تر د بلې جمعې پورې ټول ګناهونه معاف کړي .

په یو بل حدیث شریف کې راځي:( مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ وَمَسَّ مِنْ طِيبٍ - إِنْ كَانَ عِنْدَهُ - ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ ثُمَّ صَلَّى مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ صَلاَتِهِ كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِى قَبْلَهَا ). سنن أبی داود

ترجمه:- څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او خپلې ښایسته جامې واغوندي ، که چیرې دده سره خوشبو وي هغه هم ولږوي، بیا د جمعې لمانځه ته راشي ، د خلقو په ورمیږونو (څټونو) باندې خپې وانه ړوي ، بیا چې ( د سنتو او نوافلو ) څومره لمونځ دده په نصیب کې لیکلې وي هغه وکړي، بیا چې کله امام د خطبې د پاره را اووځي ( او خطبه شروع کړي ) نو دې خطبې ته غوږ ونیسي؛ تر دې پورې چې د لمانځه نه فارغ شي ، نو دا اعمال دده د پاره ددې جمعې نه تر د تېرې جمعې پورې د ګناهونو د بښلو کفاره ګرځي.

په یو حدیث کې شریف کې راځي: ( يَحْضُرُ الْجُمُعَةَ ثَلاَثَةُ نَفَرٍ رَجُلٌ حَضَرَهَا يَلْغُو وَهُوَ حَظُّهُ مِنْهَا وَرَجُلٌ حَضَرَهَا يَدْعُو فَهُوَ رَجُلٌ دَعَا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُ وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِإِنْصَاتٍ وَسُكُوتٍ وَلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا فَهِىَ كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِى تَلِيهَا وَزِيَادَةُ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ وَذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ (مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا). سنن أبی داود

ترجمه:- د جمعې مانځه ته درې قسمه خلق راځي : یو هغه کس دی چې دې راشي او د خطبې په وخت بې هوده کلام او لغوه کار کوي نو د جمعې په حاضرۍ کې دده همدا حصه ده ( یعنی د جمعې د ثواب نه محرومه کیږي ) . دویم هغه کس دی چې د جمعې لمانځه ته راشي خو ( د خطبې په وخت ) دعاګانې غواړي، نو دا داسې کس دی چې دې د الله تعالی څخه نه دعا غواړي که د الله تعالی خوښه شي نو ( په خپل فضل و کرم به ) دده دعا قبوله کړي ، او که خوښه یې شي نو دده دعا به قبوله نه کړي .دریم هغه کس دی چې کله د جمعې مانځه ته راشي په داسې حال کې چې د خطبې آوریدو ته یې غوږ نیولې وي او ورته چپ ناست وي او د مسلمانانو په څټونو باندې پښې نه اړوي ، او چاته تکلیف هم نه رسوي؛ نو دا جمعه به دده د پاره د تېرې هغې جمعي پورې د ګناهونو کفاره وګرځي کومه چې ددې سره نزدې تېره شوی وي، بلکه د نورو درې ورځو ګناهونو کفاره به هم وګرځي ، دا ځکه چې الله تعالی فرمايي : (و من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها) . څوک چې یوه نیکي اوکړي هغه ته به د هغې لس چنده ثواب ورکولې شي .

٢- جمعې مانځه ته د تللو په وجه په هر قدم سره د یو کال دروژو د عبادت ثواب حاصلیږي.

کوم کس چې د جمعې د آدابو لحاظ ساتلو سره جمات ته وختي پیاده لاړشي نو دداسې کس د پاره د هر قدم په عوض کې د یو کال د روژو او د یوکال د شپو د قیام (عبادت) ثواب حاصلیږي .

په یو حدیث شریف کې راځي:(مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ ثُمَّ بَكَّرَ وَابْتَكَرَ وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ وَدَنَا مِنَ الإِمَامِ فَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا). سنن أبی داود

ترجمه:- څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي بيا غسل وکړي ( يعني مبالغه وکړي په غسل کې) بيا وختي لاړ شي مسجد ته او پياده لاړ شي او په سپرلۍ سپور نه شي او امام ته نږدې کيني، بيا خطبه په خاموشۍ سره واوري او ( د خطبې په و خت ) بې هوده خبرې او بيهوده کارونه و نکړي نو ده ته به وي ( د جمعې مانځه ته راتلو په وجه ) د هر قدم په عوض کې د يو کال د روژو او د يو کال د شپو د عبادت ثواب وي .

۳- په اول وخت کې د جمعې لمانځه ته د تلونکو خلکو فضيلت :

څوک چې په اول وخت کې د جمعې مانځه ته لاړ شي نو ده ته ډير ثواب ورکول کيږي او څوک چې وروسته لاړ شي نو د هغوی په ثواب او درجو کې فرق وي .

په يو حديث شريف کې راځي:(مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلاَئِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ ). متفق عليه

ترجمه:- څوک چې د جمعې په ورځ د جنابت د غسل په شان غسل اوکړي ، بيا په اول وخت کې د جمعې مانځه ته لاړ شي نو دومره ثواب يې کيږي لکه اوښ چې خيرات کړي او څوک چې په دويم ساعت کې جمات ته لاړشي نو دومره ثواب يې کيږي لکه غوا چې خيرات کړي ، څوک چې په دريم ساعت کې لاړ شي نو دا داسې ده لکه د غټو ښکرونو واله ګډ( پسه) چې خيرات کړي ، څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو دا داسې دی لکه چرګه چې خيرات کړي او څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي دا داسې دی لکه د چرګې هګۍ ( آنډه ) چې خيرات کړي . پس کله چې امام خطبې ته را اووځي ( او خطبه شروع کړي ) نو فرښتې ( د نومونو ليکل بند کړي ) راشي او خطبې ته غوږ ونيسي.

همدې ته ورته مضمون په يو بل حديث شريف کې ذکر شوی دی؛ نبي عليه السلام فرمايي: ( إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَقَفَتِ الْمَلاَئِكَةُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ يَكْتُبُونَ الأَوَّلَ فَالأَوَّلَ وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي بَدَنَةً ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي بَقَرَةً ثُمَّ كَبْشًا ثُمَّ دَجَاجَةً ثُمَّ بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ وَيَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ).صحيح البخاري.

ترجمه:- چې کله د جمعې ورځ شي نو ملائکې د جُمات په دروازه کې ودريږي او ليکي هغه لومړنی شخص بيا ورپسې بل بيا بل( کوم کس چې اول مسجد ته راشي د هغه نوم اول وليکي ، بيا چې دويم کس راشي د هغه نوم ورپسې وليکي ، همدغه شان ترتيب وار د راتلونکو خلقو نومونه ليکي) پس کوم کس چې اول ساعت کې مسجد ته راشي د هغه مثال داسې دی لکه يو کس چې د الله د رضا د پاره اوښ خيرات کړي.بيا د دويم راتلونکي کس مثال داسې دی لکه غوا چې د الله جل جلاله د رضا د پاره خيرات کړي ، بيا د ورپسې راتلونکي کس مثال داسې دی لکه ګډ چې د الله د رضا د پاره خيرات کړي ، بيا د ورپسې راتلونکي کس مثال داسې دی لکه چرګه چې خيرات کړي ، او د ورپسې راتلونکي کس مثال

داسې دی لکه د چرګې هګۍ ( آنډه ) چې خیرات کړي ، پس کله چې امام د خطبې ویلو د پاره راووزي نو ملائکې خپل کتابونه بند کړي او خطبې ته غوږ ونیسي.

٤- جمعې لمانځه ته وختي تلونکې به د الله جل جلاله د دیدار په وخت، الله جل جلاله ته نږدې او مقرب وي( په مرتبه کې).

امام آجري او ابن بطة دا حدیث را نقل کړی دی ، نبي علیه الصلاة والسلام فرمایي : ( إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَرَوْنَ رَبَّهُمْ عَزَّ وَجَلَّ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ فِي رِمَالِ الْكَافُورِ , وَأَقْرَبُهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا: أَسْرَعُهُمْ إِلَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ , وَأَبْكَرُهُمْ غُدُوًّا ). الشريعة للآجري، الإبانة الكبرى لابن بطة

ترجمه:- بیشکه جنتیان به د هرې جمعې په ورځ د الله جل جلاله دیدار د کافورو په غونډۍ باندي کوي او الله جل جلاله ته په دوی کې ډېر نږدې دې او مقرب هغه کس وي( د مرتبې په اعتبار سره) څوک چې په دنیا کې د جمعې لمانځه ته په تیزۍ سره وختي تلل کوي .

همدا راز حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي چې وه يې فرمایل :( إِنَّ النَّاسَ يَجْلِسُونَ مِنَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى قَدْرِ رَوَاحِهِمْ إِلَى الْجُمُعَاتِ ، الْأَوَّلَ وَالثَّانِيَ وَالثَّالِثَ ). سنن ابن ماجة

ترجمه:- بیشکه د قیامت په ورځ به د الله جلاله د دیدار په وخت الله ته ډېر نږدې او مقرب( د مرتبې په لحاظ سره) هغه کس وي څوک چې څومره وخته د جمعې مانځه ته تللې وي، څوک چې اول دویم او دریم تللې وي (دی به ورته په همغه مقدار الله جلاله ته نږدې او مقرب وي د مرتبې په لحاظ سره)

جمعې لمانځه ته دتللو په وجه دنیوي کارونه پوره کیدل :

علماؤ یوه واقعه رانقل کړ ی ده : یو کس د غفلت نه د توبې خپله واقعه داسې بیانوي چې یو ځل ما د جمعې په ورځ ژرندې ته غنم د مېده کولو د پاره په خرباندې وبوړل، کله مې چې د خر نه غنم راکوز کړل نو خر را نه ځنګل طرف ته اوتختید ، په دې وخت کې زما یو ګاونډي راغی هغه راته وویل چې اوس ستا د باغ د اوبو کولو نوبت دی ، که ته اوس باغ اوبه نه کړې نو بیا به ستا نمبر ډېر وروستو راځي ، حالانکه ستا باغ ته د اوبو سخت ضرورت دی ، او په دې وخت کې د جمعې د لمانځه وخت هم برابر ؤ ، نو ما د ځان سره وویل :( صلاة الجمعة أحب إلى من غیرها) یعنې د جمعې لمونځ ماته د نورو ټولو شیانو نه ډېر خوښ دی . نو ما دا ټول کارونه پریښودل او د جمعې لمانځه ته لاړم . کله چې د لمانځه نه پس کور ته راغلم نو زما د اوړو بوجۍ په کور کې پرته وه ، بي بي مي ورځخه ډوډۍ هم پخه کړی وه ، خر مې هم په کور کې ولاړ ؤ ، او باغ مې هم او به شوې ؤ . ما د خپلې بي بي نه پوښتنه وکړه : دا کارونه څنګه اوشو ؟ بي بي راته وویل : زمونږ دې ګاونډي ژرندې ته خپل غنم د مېده کولو د پاره وړي وو ، په ژرنده کې زمونږ د غنمو بوجۍ هم پرته وه ، نو ده په غلطۍ

سره زمونږ غنم آوړه کړي وو ، کله چې ده کور ته دا بوجۍ راوړه نو ما خپله بوجۍ او پیژندده ، نو ما ور څخه خپل کور ته راوړه . دا باغ ځکه او به شوی چې زمونږ د باغ سره څنګ کې ګاونډي خپل پټې اوبه کول ، د هغه په پټي کې سوري وو په

دې سورو کې ورنه اوبه زمونږ باغ ته راغلی ، او زمونږ غونډ باغ پرې اوبه شو . او دا خر کورته ځکه راغی چې دا د ځنګل نه لیوانو را په منډو کړې ؤ ، د هغوی له ویرې کورته را ننوتلو.

داکس وایي : (وذلك كله ببركة صلاة الجمعة) دا ټول کارونه د جمعې د مانځه په برکت سره اوشو . نو ما بیا د دنیاوي کارونو سره مینه پریښوده او عبادت طرف ته متوجه شوم .

بغیر له عذره د جمعې لمونځ پریښودو سزاګانې:

په چا باندې چې د جمعې لمونځ فرض وي او دې بغیر عذره د جمعې لمونځ پریږدي نو دداسې کس د پاره په احادیثو کې سخت وعیدونه او سزاګانې ذکر شوي دي چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

۱- بغیر له عذره د جمعې لمونځ په پر یښودو سره په زړه باندې مهر لګیږي:

دحضرت عبد الله بن عمر او حضرت ابوهریره رضي الله عنهما نه روایت دی ، دوی دواړه وایې چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي چې پیغمبرعلیه السلام د خپل لرګي په ممبر باندې وفرمایل :( لَيَنْتَهِـينَّ أَقْـوَامٌ عَـنْ وَدْعِهِمُ الجُمُعَاتِ أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُونَنَّ مِنَ الغَافِلِينَ ) رواه مسلم .

ترجمه:- دا خلک دې د جمعې لمونځونو پریښودلو څخه منع شي که نه نو الله تعالی به ( د جمعې مونځ د پریښودو په وجه) ددوی په زړونو باندې مهر ولږوي بیا به دوی خامخا د غافلینو له جملې څخه وګرځي .

په دې حدیث کې د جمعې د لمانځه د پریښودو سزا ذکر شوی ده چې الله تعالی به دداسې کس په زړه باندې مهر ولګوي او مهر لګول کنایه ده ددې خبرې نه چې الله تعالی به د داسې خلکو زړونه په غفلت باندې ګرفتار کړي چې بیا به د نصیحت او اصلاح د توفیق نه محرومه شي ، چې په نتیجه کې به داسې خلک د الله تعالی په عذاب کې ګرفتار شي . په یو بل حدیث شریف کې راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :( مَنْ تَرَكَ ثَلاَثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قَلْبِهِ). سنن أبی داود

ترجمه:- څوک چې د سستی په وجه درې جمعې ( لمونځ ) پریږدي نو الله تعالی به دده په زړه باندې مهر ولګوي. ( چې په دې په وجه به بیا د نیک عمل د توفیق نه محرومه شي).

۲- د جمعې د لمانځه په پریښودو سره دهغه د کور د سوزولو تهدید:

کوم خلک چې بغیر عذره د جمعې لمونځ پرېږدي نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د داسي خلکو په باره کې سخت وعید ذکر کړی دی او پیغمبرعلیه السلام فرمایې زړه مې غواړي چې دداسې کسانو کورونه ورباندې وروسیزم.. په حدیث

شريف کې راځي: (عن عبد الله، أن النبي صلى الله عليه وسلم، قال لقوم يتخلفون عن الجمعة: لقد هممت أن آمر رجلا يصلي بالناس، ثم أحرق على رجال يتخلفون عن الجمعة بيوتهم). صحيح مسلم ترجمه: د حضرت عبدالله بن مسعود

رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه خلكو په اړه وفرمايل چې (پرته له عذره) د جمعې لمانځه نه وروسته پاتې كيږي ( يعنې د جمعي لمانځه ته نه ځي ) ما دا اراده كړی ده چې زه يو كس ته حكم وكړم چې هغه ( زما په ځای ) خلكو ته لمونځ وركړي ، بيا زه د هغو خلكو كورونه (د دوی د مال و اسباب او د دوی سره) وسوزوم كوم چې د جمعې لمانځه څخه پاتې كيږي( دجمعې لمونځ نه كوي بغير له عذره ).

تاسو ديته فكر وكړئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل امت باندې دومره ډير مهربان ؤ چې چاته يې معمولي تكليف وركول هم نه خوښول ،مگر كوم خلك چې بغير له عذره د جمعې مانځه ته نه راتلل نو د هغوی په باره كې يې د سختې غصې إظهار وكړو چې د دوی د كورونو سوزولو اراده يې وكړه .

٣- پرته له عذره د جمعې لمونځ پريښودلو سره منافق ليكل كيږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :(مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ كُتِبَ مُنَافِقًا فِي كِتَابٍ لا يُمْحَى وَلا يُبَدَّلُ). مسند الشافعي، البيهقي

ترجمه:-څوک پرته له ضرورته د جمعې لمونځ پريږدي وبه ليكل شي منافق په داسې كتاب كې چې نه محوه كيږي او نه بدليږي.

٤- بغير له عذره دجمعې لمونځ پريښودونكی د جهنم مستحق دی.

په چا باندې چې د جمعي لمونځ فرض وي او دې بغير عذره د جمعې لمونځ پريږدي نو داسې كس د جهنم مستحق دي ، د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه دداسې كس په باره كې پوښتنه وشوه ( وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَنْ رَجُلٍ يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ، لَا يَشْهَدُ جُمْعَةً وَلَا جَمَاعَةً؟ فَقَالَ: هُوَ فِي النَّارِ) سنن الترمذي

ترجمه:- د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه د هغه كس په اړه پوښتنه وشوه چې هغه هميشه د ورځې روژه نيسي او د شپې ټوله شپه نفلي عبادت كوي خو د جمعې مونځ او جمعې ته نه حاضريږي ( د داسې كس څه حكم دی ؟ ) - ابن عباس ورته وفرمايل : دا به د جهنم په اور كې وي .

امام ابو بكر ابن ابي شيبه دا روايت داسې نقل كړی دی: ( عن ابن عباس ، قال : اختلف إليه رجل شهرا يسأله عن رجل يصوم النهار ويقوم الليل ، ولا يشهد جمعة ، ولا جماعة ، مات ؟ قال : في النار). مصنف ابن أبي شيبة

ترجمه:- د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو كس پوره يوه مياشت ورته راتللو او داسې پوښتنه يې ورڅخه كوله چې يو سړی د ورځې روژې نيسي او د شپې عبادت كوي خو د جمعې لمانځه ته او جماعت ته نه حاضريږي او مړ شو

؟ ابن عباس رضي الله عنه ورته وفرمايل : هغه به په جهنم کې وي.

د دې حديث  مطلب دادی چې که يوکس ټول عمر د ورځې روژه نيسي او د شپې ټوله شپه نفلی عبادت کوي خو چې د

جمعې لمانځه او جماعت ته نه حاضريږي ، او ديته هيڅ توجه نه ورکوي نو داسې کس اگر چې مسلمان دی خو بيا به هـم ددې گناه سزا په جهنم کې ويني .

امام ترمذي رحمه الله د مذکور حديث مطلب دا بيان کړی چې :( ومعنى الحديث أن لا يشهد الجماعة والجمعة رغبة عنها واستخفافا بحقها وتهاونا بها)  سنن الترمذي دا د جهنم دائمي سزا د هغـه چـا د پـاره ده چـې هغـه د جمعـې او جمعـې نـه اعراض کوي ، او ددې سپکاوې کوي .

د جمعې خطبې ته غوږ نيول واجب دي.

د جمعې خطبې ته غوږ نيول ولو که خطبه نه اوري او يا دامام څخه لری ناست وي واجب دي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : (إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَنْصِتْ، وَالإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ).صحيح البخاري.

ترجمه:- کله چې د جمعې په ورځ باندې امام خطبه لولي او ته خپل ملگري ته دا هم اووايې چې چپ شه " نو تا لغوه کار اوکړو ۰

ددې حديث نه معلومه شوه چې د امام د خطبې په وخت کې مطلقا خبرې منع دي؛ آن  تـر دې پـورې چـې کـه يـو کـس د خطبې په دوران کې خبرې کوي نو هغه ته د چپ شه ويل هم منع دي ، اگر چې هغه ته د چپ شه ويل په امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې راځي خو د خطبې پـه دوران کـې دا هـم منـع دي . ځکـه د خطبـې پـه وخـت چـپ کيـدل او خطبـه پـه خاموشۍ سره آوريدل واجب دي ، تر دې پورې چې که يو کس د امام نه لرې ناست وي او د امام د خطبې آواز نه آوري نو بيا هم د صحيح قول مطابق دده د پاره چپ کيناستل واجب دي .

فقهاؤ دا قاعده ذکر کړی : (هر هغه کار چې هغه په لمانځه کـې کـول حـرام دی هغـه پـه خطبـه کـې هـم حـرام دی " لکـه خوراک ،  څښاک ، خبرې کول، د سلام جواب ).

ابن عابدين رحمه الله فرمايې: (أن كل ما حرم في الصلاة حرم في الخطبـة فيحـرم أكـل وشرب وكـلام ولـو تسـبيحا أو رد سلام أو أمرا بمعروف إلا من الخطيب لأن الأمر بالمعروف منها بلا فرق بين قريب وبعيد في الأصح). حاشية ابن عابدين

ترجمه: هرهغه څه چې په لمانځه کې حرام دي هغه په خطبه کې هم حرام دی نو حرام دی خوراک ، څښاک ، خـبری ولـو که تسبيح ويل هم وي او يا د سلام جواب وي  او يا امر بالمعروف وي ماسوا له خطيب څخـه ځکـه امـر بـالمعروف د خطبـې برخه ده؛ دا حراموالی پرته له توپيره په مابين د نږدې( ناست شخص)  او د لرى (ناست شخص)  څخه بناء په اصح روايت سره.

د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی هغه فرمايي:( إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ خَرَجَ الشَّيَاطِينُ يُرَبِّثُونَ النَّاسَ إِلَى أَسْوَاقِهِمْ وَمَعَهُمْ الرَّايَاتُ وَتَقْعُدُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى أَبْوَابِ الْمَسَاجِدِ يَكْتُبُونَ النَّاسَ عَلَى قَدْرِ مَنَازِلِهِمْ السَّابِقَ وَالْمُصَلِّيَ وَالَّذِي يَلِيهِ حَتَّى يَخْرُجَ الْإِمَامُ فَمَنْ دَنَا مِنْ الْإِمَامِ فَأَنْصَتَ أَوْ اسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنْ الْأَجْرِ وَمَنْ نَأَى عَنْهُ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنْ الْأَجْرِ وَمَنْ دَنَا مِنْ الْإِمَامِ فَلَغَا وَلَمْ يُنْصِتْ وَلَمْ يَسْتَمِعْ كَانَ عَلَيْهِ كِفْلَانِ مِنْ الْوِزْرِ وَمَنْ نَأَى عَنْهُ فَلَغَا وَلَمْ يُنْصِتْ وَلَمْ يَسْتَمِعْ كَانَ عَلَيْهِ كِفْلٌ مِنْ الْوِزْرِ وَمَنْ قَالَ صَهٍ فَقَدْ تَكَلَّمَ وَمَنْ تَكَلَّمَ فَلَا جُمُعَةَ لَهُ ثُمَّ قَالَ هَكَذَا سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ). مسند أحمد

ترجمه:- کله چې د جمعې ورځ شي نو شيطانان را ووځي ، د دوی سره جنډې وي ، خلک د جماتونو څخه منع کوي ، او په بازارونو کې يې په داسې کارونو کې مشغوله کوي چې د هغې په وجه ورڅخه د جمعې لمونځ پاتي کيږي او ملائکې د مسجد په دروازو کې کيني ، د خلکو مرتبې ليکي ، کوم مونځ گزار چې مخکې راشي اول د هغه مرتبه ليکي ، بيا ور پسې د راتلونکي کس مرتبه ليکي ( او دا سلسله همداسې جاري وي ) تر دې پورې چې امام د خطبې ويلو د پاره را ووځي . پس کوم کس چې امام ته نزدې کيني ، چپ وي ، خطبه په خاموشۍ سره آوري ، او څه لغوه کار ( او خبرې ) ونکړي دده د پاره دوه حصې آجر وي او څوک چې د امام نه لرې ناست وي ، په خاموشۍ سره خطبه آوري ، چپ ناست وي او بيهوده کار ( او خبرې ) ونکړي دده د پاره يوه حصه آجر وي . او کوم کس چې امام ته نزدې ناست وي خو دې لغوه کار ( او خبرې کوي چپ ناست نه وي او نه په خاموشۍ سره خطبه آوري نو دده د پاره دوه حصې گناه ده . او کوم کس چې د امام نه لرې ناست وي خو دې لغوه کار کوي ، چپ هم ناست نه وي او نه په خاموشی سره خطبه آوري نو دده د پاره يوه حصه گناه ده . او څوک چې د خطبې په وخت بل کس ته ووايي چپ شه . نو ده خبرې اوکړې او چا چې خبرې وکړې نو ده ته د جمعې ثواب نه حاصليږي .بيا حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل : همدغه شان ما ستاسو د پيغمبر حضرت محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم نه آوريدلي دي .

په يو بل حديث شريف کې راځي: (مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا وَالَّذِي يَقُولُ لَهُ أَنْصِتْ لَيْسَ لَهُ جُمُعَةٌ). مسند أحمد

ترجمه:- څوک چې خبرې کوي د جمعې په ورځ او امام خطبه وايې دا په شان دهغه خر دی چې کتابونه باروي او هغه شخص چې ورته ووايې ( چوپ شه) د هغه د جمعې ثواب نشته.

همدا راز د خطبې په دوران کې د سنتو اداء کول او تحية المسجد کول صحيح نه دي .

امام ابن عابدين رحمه الله فرمايي: ( فلا صلاة ) شمل السنة وتحية المسجد. حاشية ابن عابدين

ترجمه:- بيا لمونځ نشته دا حکم شامل دی سنتو او تحية المسجد دواړو ته.

د جمعې بهتره لمونځ هغه دی چې خطبه يې لنډه وي:

د جمعې بهتره لمونځ هغه دی چې لمونځ يې اوږد وي او خطبه په کې لنډه وي.

په حديث شريف کې راځي: (إِنَّ قِصَرَ الْخُطْبَةِ ، وَطُولَ الصَّلاَةِ مَئِنَةٌ مِنْ فِقْهِ الرَّجُلِ ، فَأَطِيلُوا الصَّلاَةَ ، وَاقْصُرُوا الْخُطَبَ).مسند البزار

ترجمه:- د خطبې لنډوالی او د لمانځه اوږد والی علامه د سړي د پوهې ده، نو لمونځ اوږد کوئ او لنډ واياست خطبه.

همدا راز غوره ده چې د جمعې د لمانځه په لومړي رکعت کې سوره (الجمعه) ولوستل شي او په دوهم رکعت کې سوره (المنافقون) او يا داچې په لومړي رکعت کې (سبح باسم ربک الاعلی) سورت ولوستل شي او په دوهم رکعت کې د (الغاشية) سورت ولوستل شي.[ تحفة الفقهاء]

همدا راز بهتره ده چې د جمعې د ورځې د سهار په لمانځه کې د ( السجده) سورت ولوستل شي او د (الانسان) سورت ولوستل شي. په حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقْرَأُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ (الم تَنْزِيلُ) السَّجْدَةِ وَ (هَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ) السنن الكبرى للبيهقي

د خطبې په حال کې امساء په لاس کې نيول:

د جمعې په ورځ د خطبې په حالت کې په لاس کې امساء نيول د خطيب لپاره مستحب دي؛ البته التزام وربانديې درست نه دی.

امام عيني رحمه الله ليکلي دي: ( ويستحب ان يتوكأ الخطيب على نحو قوس او غيره) البناية على الهداية

ترجمه:- مستحب ده چې خطيب د خطبې په حالت کې په لينده باندې يا بل کوم شي باندې تکيه وکړي.

د خطبې پروخت ددعاء لاس پورته کول:

د خطبې ويلو پر مهال ددعاء لپاره لاس پورته کول او په ژبه دعاء ويل دې نه کوي؛ که چيرې څوک غواړي دعاء وکړي کولای شي چې په زړه کې يې وکړي.

دا خبره ډيره مهمه ده چې ځينې خلک د تقرير او بيان پروخت د خطيب مخې ته نفلونه کوي چې دا مناسب کار نه دی؛ بهتره داده چې تقرير او بيان ته غوږ ونيول شي او که چيرې څوک دخطبې څخه مخکې د تقرير په وخت کې نفل کول غواړي د مسجد په کوم کونج کې دی جدا يو طرف ته لمونځ وکړي.